(c) ketabton.com: The Digital Library



قــريــان دي دَ نــامــي نــه شم اے سيّدالابراره! ﷺ
قــريــان دَ صــداقــت نــه دي قــريان دَ امـانـت نـه دے
قــريان په كائنات كښي ستا دَ لوئے مقام اُوچت نه دے
قــريــان دي دَ وطــن نـــه او قــريــان دے دَ ديـداره
قــريــان دي دَ نــامــي نــه شم اے سيّدالابـراره!ﷺ
قــريــان دي دَ صـفـانـه شم قــريان دي دَ مــروئ نـه شم
قــريــان زه پــاك رسـولــه! ستــا دَ هــرقسمـه ادا نـه شم
قـريـان شـم پـه دُنيـا كښي ستـا لـه هرقسمـه گفتـاره
قــريــان دي دَ نــامــي نــه شم اے سيّدالابـراره!ﷺ
قــريــان شـم ستــادَ حـج نـه او قريان دي دَ جهـاد نـه شم
قــريــان دي دَ مـونـځـونـو نـه قــريـان دي دَ اولاد نـه شم
قــريـــان دي اے رســولـــه! دَ دُنيـــا دَهــريــوكـــاره
قــريــان دي دَ نــامــي نــه شم اے سيّدالابـراره!ﷺ
قــريـــان دي اے رســولـــه! دَ قــراٰن دَ تـلاوت نـــه شم
قــريــان دي پــاك رســولــه! دَ دُنيـا هـرعبادت نــه شم
قــريــان دي پــاك رســولــه! كــائـنـات كـښـي دَ اذكـاره
قــريــان دي دَ نــامــي نــه شم اے سيّدالابـراره!ﷺ
قــريـان دي اے رسـوله! دَ خائسته ښكلے روضي نه شم
قــريــان دي پــه عــرب كښــي مـنـورے مدينے نـه شم
قــريـــان دي اے رســولـــه! دَ حــرم دَ پـــاك دربـــاره

